مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۸/۰۸

# د مېلمستیاوو نزاکتونه

یو دوستانی مو دی، چې پینځه ورونه او څلور خویندې لري. هر ورور او هره خور یې شپږ اووه اولادونه لري. د دوی په کور کې چې واده یا بله لویه مېلمستیا وي، نو که دوه سوه کسان یې وربللي وي، درې سوه به ورځي. بیا یې دوډۍ کمېږي، اشپز ته وایي چې په وریجو کې دې غوړي ډېر کړي، چې لږې وخوړل شي او تولو ته ورسېږي. دوی د هماغه دوو سوو کسانو لپاره ځای برابر کړی وي؛ خو چې مېلمانه یې زیات شي، نو د ګاونډیو دروازې ټکوي، چې هلځ یو دوه کوټې راته تیارې کړئ. په دوی کې اوقیان ډېر دي. هر یو یې چې په لاره کې هم خپل پېژندګلويویني، نو ورته وایي چې په دې ورځ مو مېلمستیا ده یا واده دی، خامخا به راځې. همدا وي چې تر رابللو نا بللي مېلمانه یې زیات شي.

اوس د هوټل په ودونو کې بیخي عامه شوې ده، چې تر اټکل زیات کسان ورځي. ډوډۍ هماغه ډوډۍ وي؛ خو هوټلي بیا د اضافي مېلمنو له درکه نورې پیسې اخلي او واده والا غرقوي. د دې کار لامل دا وي، چې ځیني کسان که یوازې پخپله وربلل شوی وي، له لارې خپل ملګري هم ورسره بیایي. ځیني کسان بیا خپلې مېلمستیا ته داسې کسان سره یو ځای وربلي چې د ذوق، مفکورې او باورونو له نظره سره لرې دي او یا له یو بل سره جدي اختلافونه لري. داسې مېلمستیاوې به ځکه پر مېلمنو وغمېږي، چې په کې بحثونه او شخړې راولاړېږي. باید دې نزاکت ته پام وکړو چې خپلې مېلمستیا ته هغه کسان وروبولو چې سره هم طبع وي او تول له بنداره خوند واخلي.

زما یو انډیوال بیا په مېلمستیاوو کې چې یو وار په ټوکو خوله خلاصه کړي، دې ته نه ګوري چې په مجلس کې څه رنګه خلك ناست دي، بس له نورو سره د خور و مور زیاړې د ټوکو په بنه کوي. هغه ایله خلك پر ځان باندې خندوي او ځان سپکوي.

څو کاله مخکې مو یو دوستانی له پاکستانه په کډه کابل ته راغی. یو خپل مو ورته مېلمستیا وکړه، خبر یې ورکړ چې په دغه شپه مو مېلمانه یئ. سره له دې چې کورونه یې ډېر سره نژدې و؛ خو هغوی ورنغلل. بل ځل یې ورته وویل، چې په دغه ورځ درته سترګې په لاره یم، بیا ورنغلل. درېیم وار یې ورته ډوډۍ وکړه، تر ماخوستنه یې ورته انتظار وکړ، خو درك یې نه شو معلوم. اخر یې پاخه کړي شیان له ډېګو سره د هغوی کور ته یوړل. که سړی نه غواړي د چا کره لاړ شي، باید په ډاګه ورته ووایي، که نه نو دومره کبر ښه نه وي، چې چا درته مړی وکړي او ته ورنه شې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ